AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارين
۲۰۲۶/۰۴/۰۷

# د افغانستان په هکله د پاکستان دښمنانه پالیسي

## (څلورمه او وروستۍ برخه)

د افغانستان او پاکستان مخامخ جګړه چې د فبروري د میاشتې په ۲۶مه نیټه پیل شوه او تر دا اوسه لا هم دوام لري، د دواړه هېوادونو ولسونه يې له خورا تشویشونو او ستونزو سره مخ کړي دي. چې د دغو جګړو قربانیان په خاص ډول د پاکستان د هوايي بریدونو له لارې د افغانستان ملکي اوګړي، کورونه او نورعامه تآ سیسات دي.

پاکستان په «سرحدي سیمو» کې له ناوتریخوالي وروسته او د خپلو هوايي بریدونو له پاره په افغانستان کې دننه د (ټي ټي پي ) موجودیت او کمپونه بهانه ګرزولي او وايي، چې پر دغو وسلهوالو هدفونو يې هوايي بریدونه کړي دي، حال دا چې د خپلې دغې بې مورده دعوې په هکله يې تر اوسه هيڅ ډول ثبوت او شواهد نه دي وړاندې کړي.

ولیدل شول چې د افغان طالبانو ځواکونو د پاکستان د هوايي بریدونو په مقابل کې د دیورند د فرضي کرښې په ځینو برخو کې د پاکستان پر پوځي مرکزونو ځوابي بریدونه تر سره کړل پوستې يې ونیولي او دښمن ته يې سخت مالي او ځاني تلفات وروړه برخه کړل.

پاکستاني جرنیلانو او د پنجاب ظالمو واکدارانو د خپلو دغو بې شرمانه ماتو په غبرګون کې يو ځل بیا پر کابل، کندهار، پکتیا او ځينو نورو برخو هوايي بریدونه تر سره کړل چې د دغو ټولو بریدونو قربانیان ملکي اوګرى او د دغو سیمود ځینوکورنیوغړي وو.

د پام وړ خبره خو دا ده چې د دغې رواني جګړې په هکله د متحده ایالتو د بهرنیو چارو د وزارت یوه ویاند داسې وویل:

«هغوی په دغې جګړې خبر دي او وضعیت له نږدې څاري».دغه مطلب د ښکاره ثبوت دي چې ممکن دغه جګړه د امریکا په اشاره تر سره کېږي.
د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت د دریځ او د دغې جګړې په اړه د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي داسې وویل:

«د طالبانو ځواکونو د هېواد د حاکمیت، هوايي حریم او ځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې له پاره دغه اقدام کړی دی. هغه زیاتونه کړه چې افغانستان غواړي دغه ستونزې د متقابل درک او درناوي له لارې حل کړاي شي.

د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په میاشت کې د فرضي کرښې دواړو غاړو ته د نښتو په نتیجه کې له ۷۰ څخه ډېر کسان ووژل شول او ترڅنګ يې د دغو جګړو له امله دروازې د اوږد مهال له پاره و تړل شوې چې د دواړه هېوادو په خاص ډول د پاکستان اقتصادي او تجارتي اړیکې يې خورا ستونزمنې کړي.
پاکستان سوچ کاوه چې د دوي منظم نظامي ځواک او هوايي بمبارد او فشار به طالبان دې ته اړ کړي چې د پاکستان هرې غوښتنې ته غاړه کېږدي، خو محاسبه يې غلطه وختله، د جګړو ناکامیو دې ته اړویستل چې د خبرو او دیپلوماتیکو هلو ځلو له لارې خپلو موخو ته ځان ورسوي، نو ځکه يې له قطر، ترکیې او سعودی عربستان نه وغوښتل چې د دوي د منځګړیتوب له لارې تاو تریخوالی کم او يوې نتیجې ته سره ورسیږي، مګر دغه خبرې چې په ترکیه او سعودی عربستان کې تر سره شوې، ځکه يې پایلې منفي وې، چې په ټولو خبرو کې د پاکستان غوښتنې بې اساسه وې او دي.

پاکستان افغانستان تورنوي چې له خپلې خاورې څخه د فعالو وسلهوالو ډلو د کنټرول له پاره کافي او اغېزناک ګامونه نه اخلي. له دغو ډلو څخه تر ټولو مهمه د پاکستاني طالبانو د تحریک ډله ده، چې په پاکستان کې خونړي بریدونه تر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خیر و لولئ

سره کوي. د طالبانو حکومت تل ترهګرو ډلو ته د پناه ورکولو تورونه ردوي او تل يې تاکيد کړي ، چې دوي د دوحې د قرارداد پر بنسټ هيچا ته اجازه نه ورکوي چې د افغانستان له خاورې نورو هېوادو ته ګواښ شي.

طالبان ټينګار کوي چې، په پاکستان کې د پاکستاني طالبانو فعاليت د اوسني وخت خبره نه ده، په افغانستان کې د طالبانو د قدرت تر مخه هم پاکستاني طالبانو په پاکستان کې فعاليت درلود، نو ځکه، د دوي د حملو مخنيوى او مهار کول د پاکستان داخلي ستونزه او د دوي امنيتي ناکامي ده.

د ۲۰۲۱ کال د اګسټ د مياشت تر ټولو ضرور تصوير چې د ډېرو افغانانو په ذهن کې د هېريدو نه دی، هغه د پاکستان د استخباراتي اداري د (ای اس ای) د هغه وخت د مشر، جنرال فيض حميد په کابل کې د طالبانو له واکمنېدو يوازې څو ورځې وروسته، په سرينا هوټل کې د چايو څښلو په حالت کې اخيستل شوی تصوير دی.
په ريښتيا هم دا يو ډېر مانا لرونکی تصوير و، چې د پاکستان د استخباراتو مشر په ډېر ډاډ او ارام لکه کابل يې چې خپل نوی کور وي خوشاله ښکاريده، مګر هغه څه له نن سره ډېر لرې او خورا توپير لري،هغه خوشاله جنرال فيض حميد اوس په زندان کې شپې او ورځې تېروي، خو بر عکس اوس د اسلاماباد او کابل ترمينځ هغه پخوانی پټه ملګرتيا په يوه ښکاره او اعلان شوي جګړې بدله شوې ده.
په دې کې شک نه شته چې د پاکستان د بريدونو پر وړاندې د طالبانو مقاومت پرته له يو شمېر محدودو هېواد پلورونکو نه نور د ټولو افغانانو که دننه په هېواد کې دي او که له هېواده بهر احساسات راوپارول او له نظام سره په څنګ کې د درېدو غږ يې پورته کړ.

دا يو حقيقت دي چې طالبان د ديورند د فرضي کرښې د بيلا بيلو برخو د ساتنې په ځمکني جګړو کې د پاکستان پر اجېر او کرايي پوځ برلاسي دي. خو دومداره جګړه نور مهم او اساسي ابعاد او اړتياوې لرى چې غواړم په لاندې ډول ورته اشاره وکړم:

۱-افغانستان په وچه کې راګېر هېواد دی چې مهمې سوداګريزې لارې يې د پاکستان له لارې تر سره کېږي، که څه هم د طالبانو او افغان ولس ملي احساسات يو پياوړی ځواک دی، خو بيا هم د اقتصادي ثبات ځای هېڅکله نشي نيولی، نو ځکه دغه جګړه د دواړو هېوادو په ګټه نه ده او دا يوه داسې لوبه ده چې ښايي دوام يې ناممکن او يا هم ډېر زيات زيان ولري، چې موثره د حل لار يې جګړه نه، بلکې خبرې، اترې تفاهم او ډيپلوماسی کيدای شي.

۲-جګړه يوازې په احساساتو دوعاوو او نه شته عصري تخنيک او وسايلو نه تر سره کېږي، بلکې پر پرمختللي وسا يلو، تجهيزاتو، هوايي ځواک، پرمختللي تکنالوژيو او پياوړي اقتصاد ښه او بريالی تر سره کيدای شي، ښه مثال يې ايران دی.
حقيقت همدا دی، که څېرې ايران پرمختللی تکنالوژي، راکټونه او ځواکمن هوايي پوځ نه درلودی، دومره اوږده جګړه يې د نړۍ د ستر زبرځواک، ټوله عربي نړۍ او اسرائيلو سره نه شوه تر سره کولای. طالب چارواکي يې بايد له ايران نه زده کړي چې، هغه هم يو اسلامي ملک دي د ښځو حجاب په سمه توګه په کښي عملي کېږي، خو زده کړې په لوړه کچه د نارينه او ښځينو له لورې تر سره کېږي او هم په عملي ډول ليدل کېږي چې د لوړې تکنالوژۍ په لرلو سره د وسلو مهماتو او راکټونو په فابريکو کې اتيا په سلو کې نجونې او ښځې کار کوي، همدا يې د بريالیتوب يو اساسي راز هم دی.

۳-جګړه د ملي حاکميت، ارضي بشپړتيا او د هېواد د ملی نواميسو د ساتنې لنډ مهاله کار نه دی، بلکې اوږد مهاله سوچ، اړتيا او مادی، معنوي اکمالاتو اوامادګيو ته اړتيا لري، اوسنی نړيوال وضعيت د افغانستان روانه جګړه يوازې له پاکستان سره نه محدودوي، بلکې دا کيدای شي پراخ ابعاد ولري، چې طالب چاروکي به بيا هغه وخت خپلو تېروتنو ته حيران وي، خو وخت به تري تېر وي. د دغه ترخه واقيعيت د ويلو نه مې مطلب دادي چې:
۴- په تکرار سره يې وايم چې اوسنی وضعيت د دې حکم کوي چې طالبان وخت له لاسه ورنه کړي، لويه جرګه راوغواړي، داخلي مشروعيت تر لاسه کړي، د جګړې په هکله د ولس مشوره او ملاتړ په ډادمنه توګه واخلي، د زده کړو او لوړو زده کړو دروازې د نارينوو او ښځينوو له پاره پرانيزي، د نړيوال مشروعيت او تعامل له پاره د هېواد د ملي ګټو په نظر کې نيولو سره جدي او عملي هلې ځلې تر سره کړي او په دغه برخه کې کوټلي ګامونه واخلي.

۵- پورتنې چارې له نړۍ سره د تعامل له لارې کولای شي د هېواد د دفاع له پاره عصري وسلې، تجهيزات او تکنالوژي په رسمي ډول د ځينو پرمختللو هېوادو څخه تر لاسه کړي، ځکه چې د هوايي او دفاعی ځواک شتون او تکميلول د يو هېواد د ملی حاکميت د ساتلو مطمئن اصل دي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ